سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۱/۰۹

# ویش

د ژونــد تولو اړخـو کې، ماته غـم دی رســیدلی
ټوپـک راته عـوض کې، د قـلم دی رســیدلی

که دا د ازل کاروی، خو عجیبه غوندی ویش دی
هر کــوړ د ژوندون ماته، بل ته سم دی رسیدلی

حیران یم چی قسمت د رقیب، څومره زورور دی؟
هــرویش کی ماته ویر، ده ته صــنم دی رسیدلی

هر وخت په هر موسم لګی، توفان زما په باغ
هر باغ ته د حریف می تل، شبنم دی رسیدلی

جانانه ګیله مــکــړه، درنــه لــری خــوبه یــم
کوم درد چی تاته رســی، ماته سم دی رســیدلی

تقسیم ازلــی نه دی، دا عمل دی د انســـان
دا ځکه یو ته عیش، بل ته ســـتم دی رســیدلی

هوښیار شــه کلیوال، تمیز نه دی اسـان ځـکه
چی عقل چـاته ډیر او چـاته کم دی رســیدلی

جنوری/۸/۲۰۱۹
تورنتو ــ کاناډا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ